مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ودان روښان ۲۰۱۸/۰۶/۰۲

پر کورنیو چارو وزارت ډله ییز ترهګریز برید د شننې په هنداره کې

د کورنیو چار وزارت پر نوي ودانۍ د غبرګلي نهمه لسو ځانه مرګه بریدګرو داسې مهال برید وکړ چې بریدګر د تورو ښیښو خورا ګرانه بیه موټرو کې د برید ترځایه رسول شوي وو. سره له دې چې د کابل ښار ان ډېرو خوندي ځایونو کې ځانمرګه بریدونه نوې خبره نه ده او تر دې وړاندې هم دا ډول پېښې څو څو ځله تکرار شوې وې خو ددغه برید څرنګوالی او ځای ځای ګی ځینې نوې نښې نښانې له ځانه سره لري چې په تعبیر او تفسیر ارزي.
په لومړي ګام کې دغه برید داسې ځای شوی چې پخوا دغلته د ځان مرګه بریدګرو هغه هم په دومره لوی شمېر کې رسول ناشوني وو، په دې مانا چې پخواني ځانمرګه بریدونه تردېره د ښار په هغو سیمو کې شوي چې ترهګر په اسانۍ ورته رالېږدل کېدی شول لکه د کابل ښار پر لودیځه څنډه، لکه ارغندي او پغمان مشرف و یاني کانتینینتال، خوشال مینې، قرغې او نورسیمو کې چې په اسانۍ ورته له ښاره بهر سیمو ترهګر، مهمات او نور اړتیایي توکي رالېږدول کېدی شول. یا هم د دارالامان سرک غاړو سیمو کې چې پر ریشخورو، للندر او چاراسیاب مشرف دي. یاهم هغه سیمې چې د ښار پر سویلي او ختیځو څنډو لکه سهاک، شیوکي، بګرامي، خاک جبار، څرخي پله او هوتخیلو مشرف دي لکه پل محمود خان، ششدرک، مکرریون او دې ته څېرمه سیمې چې ترهګر ورته په اسانۍ را لېږدول کېدی شي. داسې انګرېنه هم وه چې ترهګر له بریدونو وړاندې هدف ته ورځېرمه سیمو کې ځای پرځای او بریدونو ته چمتو شوي وو، خو برید داخل داسې ځای شوی(د کورنیو چارو وزارت نوې ودانۍ)چې له یادو زیانمنونکو سیمو ډېره لرې پرته ده. دا څه شی ښیي؟ دا ښیي چې برید په ډېره لوړه کچه چې له تردید پرته نه یواځې یوې ځواکمنې بلکې څو استخباراتي شبکو په ګډه پلان او عملي کړی و که سپینه یې ووایم دغه برید ای اس ای، د روسیې او ایران استخباراتو په ګډه پلان او عملي کړی دی، دا ځکه چې د برید له پاره دومره ګران بیه موټرو چمتو کول او د برید ترځایه له وسلو سره د لسو بریدګرو رسول د کورنیو ترهګرو لکه حقاني شبکې او طالبانو له وسې خو بیخي لرې خبره ده بلکې مالي لګښت یې ښایي د یوې استخباراتي شبکې په توان کې وي خو عمل ته تېرېدل بیا باید د څولاسونو کار وي.
زه باوري یم چې تکتیکي قدمه یاني د ترهګرو روزل، چمتو کول او د ښار ترڅنډو رسول د ای اس ای کار دی، خو تر اریا ښارګوټي چې د هوایي ډګر ۸۰ متره سرک ته څېرمه د کورنیو چارو وزارت نوې ودانۍ پورې د ترهګرو رسول او دغلته ځای پرځای کول بیا د روسانو او ایرانیانو ګډ کار دی ځکه دغه ځای ته نږدې ایران پلوي پراته دي او ایراني استخبارات په هغو سیمو لکه دربیمه کارته، پل سرخ، دښت برچي، ده بري، تایمني او چارکلا کې په بېلابېلو نومونو بنسټونه او موسسې اداره کوي او د یادو سیمو له اوسېدونکو یې هم پریمانه جاسوسان ګومارلي نو ځکه خو ویلی شو چې ترهګر د ایراني استخباراتو پر مټ ځای پرځای شوي دي. څرنګه ترهګر په ګران بیه موټرو کې د برید ترځای لېږدول شوي نو دا اسانتیا بیا روسانو برابره کړې ده.
د برید له پاره د چمتووالي پروخت د امنیتي ځواکونو حالت او وضعیت او په ټوله کې امنیتي تشه هم ښه کره په ګوته او ګټنه ترې شوې ده په دې مانا چې د ترهګرو ملاتړو دا مالومه کړې چې د تورو ښیښو ګران بیه او بې لمبر پلیټه موټرو کې هغه چارواکي او زور واکي تګ راتګ کوي چې پولیس یې د درلو او پلټنې توان نه لري او نه هم هغه د بازاریانو په وینا:« په پولیسو جمپ نیسي» نو ځکه د برید له پاره دغه ډول موټر غوره شوي وو. دغه ډول بریدونه یا ستر مافیایي باندونه هغه وخت کوي او د دومره لوړ لګښت ریسک مني چې په بدل کې یې څو برابره زیاتې ګټې ته خنډلي وي لکه کابل ښار کې چې د پخواني دفاع وزیر جنرال رحیم وردګ د کور غلا ته چې د مافیا مشهور سرلاري قسیم فهیم پلان جوړ او پر خپلو بریځو، حبیب استالف او رییس خدایداد یې عملي کړ. په هغه غلا کې د لوړې بیې له درې یا څلورو داسې موټرو ګټنه شوې وه چې ټیک د رحیم وردګ د ورځنۍ کارونې موټرو ته ورته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالېږلو مخکې په ځیر و لولئ

وو. هلته هم دوه موخې وې يو خو فهيم ځکه پر رحيم وردګ په غصه او خپل غچ يې ترې واخيست چې حامد کرزي دده(فهيم) پرځای د دفاع وزير ټاکلی و او بله دا چې وردګ هم ښه ډېره غلا کړې وه او ډېرې پيسې او شته يې په کور کې ساتلې وو نو ځکه خو د مافيا مشر(قسيم فهيم) ته جوته وه چې دا مړی په دغه لګښت ارزي نو ځکه يې دومره لګښت ته اوږه ورکړه او له بله پلوه يې ورګ هم وپوهاوه چې په دفاع وزارت کې دده له کسانو سره کار ونه لري که نه نو بيا دده سر ته هم خطر پېښېدی شي، پر همدغه دليل نه چا هغه مسله وځېړله او نه هم ورګ صاحب په دفاع وزارت کې د پام وړ بدلون راووست او ترپايه هسې لکه مولی ناست و.
خو راغلو دې ته چې په ترهګريزو بريدونو کې د دادول موټرو کارونه د وړو شبکو کار نه دی بلکې دا د لوړې کچې شبکې دي چې د خپل پيغام رسولو په موخه بيا چندان د لګښت خيال نه ساتي، ځکه هغه ګټه چې دوی ورته ستګې ډومارلې هغه د خپل پيغام رسول دي.
رښتيا ولې دې درې لورو دغه ډول بريد پلان او عملي کړ؟ ځواب روښانه دی او هغه دا چې د افغانستان په بربادي او ورانۍ کې ای اس ای موخه خو مالومه ده او ټول پرې پوهېږي چې پاکستان پر خپل ستراتېژيک عمق د افغانستان بدلولو او په کابل کې د لاسپوځي رژيم له واکمنولو په لږ شي نه قانع کېږي. ايران هم د اوبو په اور کې سوځي او غواړي د تل له پاره د افغانستان اوبه وړيا ګروت کړي نو ځکه خو په ټول ځواک هڅه کوي افغانستان د ارامۍ سا وانخلي که چېرې افغانستان امن شو نو بيا خپلې اوبه وړيا نه ورپرېږدي.
او روسانو چې په سوريه کې له امريکې ميدان ګټلی اوس غواړي د نړۍ هره ګوټ کې چې وي د امريکا ګټې وننګوي او امريکايانو ته سرخوږی جوړ کړي نو ځکه خو کرار نه کيني. ځيني لنډ فکره بيا وايي چې افغان چارواکو ته نه ښايي افغانستان د سترو ځواکونو په نيابتي جګړه بدل کړي په اصولو کې خو دا سمه خبره ده خو که يې څوک ومني! زه باوري چې که افغان چارواکي روسانو، پاکستانيانو او ايرانيانو ته نعوذ بالله قران کريم له پاڼو سره هم وخوري چې افغان خاوره به د هغوی پر ضد نه کارول کېږي، خو هغوی ځکه له لاسوهنې لاس نه اخلي چې خپله ګټه په همدې(لاسوهنه) کې ګوري.

د دغه بريد لوست:

١ - په کورنۍ برخه کې: اوس هغه وخت رارسېدلی چې لږ تر لږه په کابل ښار کې نوره د زورواکو او خپلسري کمبله ټول شي او د کابل پوليسو او ګارنيزون ځواک پياوړی او واک يې ډېر شي. د کابل ښار په مهمو ځايونو او څلور لارو کې د ګارنيزون ښې سمبال پوستې ځای پرځای شي چې که کوم زورواکي د درېدو او پلټنې امر ونه مانه له ځنډ پرته دې په توغندي وويشتل شي خدای دې وکړي چې وزير وي، د کومې ډلې مشر، وکيل يا بل هر زورواکی چې وي که يو يا دوه له دغه ډول چلند سره مخ او احساس يې کړه چې قانون ماتونه يې بې ځوابه نه پاتې کېږي نو بيا به وګورئ چې څنګه قانون ته غاړه ږدي.
٢ ـ په دويم ګام کې د ضد اطلاعاتو سيستم بايد پياوړی او ډېرې پيسې او انساني تکړه ځواک ورته ځانګړي شي، ټول ښار، هره کوڅه، څه چې هر کور بايد تر کلکې څارنې لاندې ونيول شي. ښکاره ده چې دغه کار ډېرو پيسو ته اړتيا لري چې نړيواله ټولنه بايد اوږه ورکړي دا ځکه چې د امريکې نړيوال سيالان له هغې سره خپله جګړه په افغانستان کې مخته وړي، نو ځکه خو دوی بايد دغه لګښت ومني.
په دې برخه کې يو ځل بيا خپل پخوانی وړانديز تکراروم او هغه دا چې افغان استخبارات بايد ځانونه د ورته عمل يا ځواب جوګه کړي او په هره بيه چې وي په بدنيته او دوښمنو هېوادو کې ځان د ورته عمل له پاره چمتو کړي، که ايران طالبان لمسولی شي موږ هم بايد بلوڅانو، کردانو، اذريانو، سنيانو، مجاهدين خلق او د ايران نورو ناراضي ډلو سره مرسته وکړو، د ايراني اخوندانو مخالفينو سره ان لږ مرسته هم ايرانيانو ته سرخوږی جوړاو هغوی په عقل راووستلی شي. پاکستان کې خو هر کار ډېر اسانه دی يوازې پيسې غواړي، هيڅ چاودنه او ځانمرګه بريد چې رېښه يې تر ای اس ای ورسېږي بايد بې ځوابه پاتې نه شي او روسانو ته هم که خپله روسيه کې نه وي نو د ګټو په سيمو کې خو ورته د سرخوږي جوړول ګران کار نه دی، په طويل دره کې اورپکي په دوو پښو ناست دي يوې اشارې ته سترګې پر لار دي چې له کومې خوا لږ شانته مرسته وروسېږي اوربلولی شي او بلوي يې هم، خو لومړی بايد دغو هېوادونو ته دغه پيغام په کره بڼه وروسول شي چې تاسې هم خوندي نه پاتې کېږئ.
ځيني به ښايي دغه عمل خطرناک وبولي خو زه وايم د هغوی چې څه په وس پوره دي دريغ نه کوي، زموږ خو يې بيخ وايسته پرېږده چې هغوی يې هم خوند وڅکي.
په بهرني اړخ کې: اوس امريکا هم پردې پوهېږي چې سيالان يې دلته بوخت دي دوی هم بايد د هغوی حرکتونو څارلو په موخه خپل ضد اطلاعات څو ځله زيات کړي چې په دې سره به هم د دوی او هم د افغانانو ګټې خوندي شي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ